## ګل د نوبهار

اسرار د طورو

دا زمـــــا د زړۀ د ویـــــنـــو احتـــرام دے
چې هـر ګـل د ګـلستـان مې لالـه فام دے

کۀ پۀ نـــار یـــم کۀ پۀ دار بـانـدې ولاړ یـم
مـــا ګـټـلـے پښـتـنـو لــه ننګ و نـام دے

د ایــمـــــان او د غـیـرت نشـــه مې ورکړه
مـا نـوشـلـے پۀ مېـخوار د مینې جام دے

دا د نـــن تـــورې تیـــارې پۀ ورکېـدو دي
ځـلېـدونـکے د سبـا ستورے پۀ بـام دے

دا چې نـــن پۀ هــر پړاو شـــمـــع بـلېږي
دا زمـــونږ د مـــحـنـتـونـو یـو انـعـام دے

دا وطـن بــه عـــاقبـت ګـل و ګلـزار شي
د شهـیـد ویـنـــه بــه ګـل د نـوبهـــار شي

☆☆☆

## وینې وینې پوهنتون

لائق زاده لائق

تر کومې چې اوده وي ضمیرونه د دې خاورې
تر هغې به ویرژن وي ماښامونه د دې خاورې

دے سوات،وزیرستان کۀ پېښور کۀ چارسده ده
هر خوا پۀ وینو سرۀ دي ښایستونه د دې خاورې

حالات دي ساه نیولي د احساس ژبه ده ګونګه
رېښتیـا لیـکلے نۀ شي قلمونه د دې خاورې

تـضاد چې مو تر څو وي په وینا او پۀ عمل کښې
تـر هـغې بــه نړیږي دیوالونـه د دې خـاورې

کتاب پۀ وینو سور دے پوهنتون پۀ وینو سور دے
نـازونه تار پۀ تار شو هم رنګونه د دې خاورې

پـوهېږم نۀ چې څـنګه ئې ماتم اوکړم لائقه؟
سـلګـو هـر خوا نیولي پرهرونه د دې خاورې

☆☆☆

# رژیدلي ګلونه

روحاب ملک

مه چېره دا د ملنګانو د کاروان بچي دي
دا د ایمل دا د رحمان د باچاخان بچي دي
مستقبل پېژني ماضي پېژني حال پېژني
په یو نظر کښې اراده پېژني خیال پېژني
د توري ډال دي خاوندان د خوشحال خان بچي دي
دا د ایمل دا د رحمان د باچاخان بچي دي

تل ئې د امن سره مینه محبت کړے دے
تل د قلم او د کتاب ئې حفاظت کړے دے
ته ئې دوست نه ئې دا د علم قدردان بچي دي
دا د ایمل دا د رحمان د باچاخان بچي دي

لفظ د کتاب له به د خپلې وینې رنګ ورکوي
راتلونکي نسل ته به دوي سبق د ننګ ورکوي
دا غیرتیان دي ننګیالي دي باتوران بچي دي
دا د ایمل دا د رحمان د باچاخان بچي دي

یاد لرله تا له به شکست په هر قدم درکوي
ستا د ټوپک جواب به تا له په قلم درکوي
دا د قلم او د کتاب مې وارثان بچي دي
دا د ایمل دا د رحمان د باچاخان بچي دي

تهٔ که هر څو ور ته خواره واره دامونه کېدې
که ور ته مخکښې د پولادو دیوالونه کېدې
د علم شمعې له راغي دا پتنګان بچي دي
دا د ایمل دا د رحمان د باچاخان بچي دي

د خپل شهید رور د قطرې وینې حساب به کوي
د ستا سره ستا د هر ظلم احتساب به کوي
ستا په بمونو راتېر شوي دي غازیان بچي دي
دا د ایمل دا د رحمان د باچاخان بچي دي

# نظم

محمد عمر سودائي

اے د نړۍ خلقو زۀ د خون دعوی په چا اوکړم
قتل بې ګناه شومه زۀ په خپل وطن

اے د نړۍ خلقو چا ته اوکړمه فریاد
زۀ د غیر د لاسه شومه خپل کور کښې برباد
زۀ د خارجي لمسون په جال کښې داسې ګیر شوم
ځکه خپل وطن کښې را ته جوړ شولو فساد

سرې وینې بهېږي زۀ به څه په کښې خندا اوکړم
قتل بې ګناه شومه زۀ په خپل وطن کښې

سرې وینې بهېږي پکښې قتل مظلومان شول
خویندې میندې کنډې شوې بچي هم یتیمان شول
پېغلې د وطن مې شوې سرتوره بې نوا پکښې
جنګ ؤ د سامراج پکښې زمونږ کورونه وران شول

څوک مې فریاد نه اوري که هر څومره ژړا اوکړم
قتل بې ګناه شومه زۀ په خپل وطن کښې

زۀ لکه شاهین به اوسېدلم دنګو غرونو کښې
پېغلې د وطن مې ګرځېدلې سرو ګلونو کښې
راغے یو چپاؤ د استعمار زمونږ وطن باندې
ویره د ناموس شوله پېدا زمونږ په زړونو کښې

خپل را ته پردي شو اوس ګیله وایه د چا اوکړم
قتل بې ګناه شومه زۀ په خپل وطن کښې

زۀ هغه پښتون چې مدام مړ په پت و ننګ ؤمه
زۀ د حق دپاره تل اغیار سره په جنګ ؤمه
قیصې د شجاعت مې په لندن کښې هم اغیار کوي
زۀ د خپل وطن د هرې پېغلې نام و ننګ ؤمه

پنګه د ناموس مې شوه تاله تپوس د چا اوکړم
قتل بې ګناه شومه زۀ په خپل وطن کښې

وائي سودائي که مونږ په جمع یو آواز اوکړو
مونږ پښتان به بیا د نوي ژوند اغاز اوکړو
په دې سوي ګلشن چې زرغون کړو سرۀ ګلونه مونږ
بیا به په دنیا د ترقۍ په لور پرواز اوکړو

او زۀ به بیا د خپلې محبوبه سره خندا اوکړم
قتل بې ګناه شومه زۀ په خپل وطن کښې